collegebound.wa.gov
collegebound@wsac.wa.gov
(انتخاب 1) 888.535.0747

# کالج باونډ (College Bound) څه دی؟

**د منځني ښوونځي زده‌کوونکي:** غواړئ د روغتيا د يو متخصص په توګه له خلکو سره مرسته وکړئ؟ په زړه‌پورې توکي جوړ کړئ؟ ويډيويي ګېمونه جوړ کړئ؟ خپل کاروبار پيل کړئ؟ ستاسو خوب يا هيلې که هر څه وي، کالج باونډ (College Bound) ورته په رسېدلو کې مرسته کولای شي! کالج باونډ (College Bound) د عايد پر اساس د ور زده‌کوونکو لپاره، د واشنګټن د کالج بلاعوضه مالي مرستې په څېر (Washington College Grant)، د ايالتي مالي مرستې يوه وختي يا له مخکې ژمنه ده. دا مرسته په واشنګټن (دا مرسته په Washington کې) کې پر څه باندې 60 کالجونو، پوهنتونونو، او تخنيکي ښوونځيو کې د زده‌کړو د منځنۍ کچې لګښت (د دولتي کالج په نرخ سره)، فيسونو، او د کتابونو لپاره د يو کوچني مقدار لګښتونو په ورکړه کې مرسته کوي. تاسو کالج باونډ (College Bound) يئ؟

## څوک ور يا پر شرايطو برابر دي؟

**ستاسو نوم‌ليکنه په خپله کېږي که:**

- دولتي ښوونځي لولئ، د عايد له مخې ور يا پر شرايطو برابر يې (لاندې جدول وګورئ)، او په اووم يا اتم ټولګي کې مو د وړيا يا ټيټې بيې غرمنۍ (Free or Reduced-Price Lunch)FRPL، وړيا يا د ټيټې بيې غرمنۍ) لپاره نوم‌ليکنه کړې، يا تازه په نهم ټولګي کې يې پر شرايطو برابر شوي يئ، **يا**
- د اووم ټولګي او له لېسې څخه د فراغت تر منځ په ايالتي يا ايالت پورې اړوند روزنتون کې يئ.

که د FRPL لپاره ور يا پر شرايطو برابر وئ، په خپل ښوونځي کې نوم‌ليکنه ورته وکړئ. په خپله به يا په اتومات ډول به په کالج باونډ (College Bound) کې نوم‌ليکنه وشي. نن له

## د 2025-26 د عايد لارښودونه

| د کورنۍ اندازه | کلنی عايد[1] | مياشتنی عايد | اونيز عايد |
|---|---|---|---|
| 2 | $39,128 | $3,261 | $753 |
| 3 | $49,303 | $4,109 | $949 |
| 4 | $59,478 | $4,957 | $1,144 |
| 5 | $69,653 | $5,805 | $1,340 |
| 6 | $79,828 | $6,653 | $1,536 |
| اضافي غړي[2] | زيات کړئ $10,175 | زيات کړئ $848 | زيات کړئ $196 |

[1] د کورنۍ عايد بايد له دغه مقدار څخه کم يا ورسره مساوي وي.
[2] د کورنۍ هر اضافي غړي لپاره، د ډالرو مقدار اضافه کړئ.

خپل سلاکار څخه وپوښتئ!

## پر شرايطو د برابرېدلو نورې لارې:

زموږ له دفتر سره اړيکه ونيسئ که تاسو:

- په WA کې خصوصي يا د کورني ښوونځي پروګرام لولئ او د عايد حدود پوره کوئ، **يا**
- د سرپرستۍ د پالنې په يو بل ډول کې يئ او د عايد پر اساس د FRPL ور يئ.

## څنګه پر شرايطو برابر پاتې شوو:

**د پروګرام اړتياوې:**

- له WA لېسې، کورني ښوونځي څخه فارغ شئ يا په WA کې يوه General Education Diploma)GED, د زده کړو عمومي ډيپلوم) ترلاسه کړئ.
- که له لېسې څخه وروسته مستقيم څلور کلن کالج ته ځئ بايد لږترلږه 2.0 جي‌پي‌اې (GPA)Grade Point Average, د نومرو اوسط)) ترلاسه کړئ (که د ټولنې کالج يا تخنيکي کالج ته ځئ د جي‌پي‌اې (GPA) اړتيا نشته).
- هيڅ جرمي محکوميت ونه‌لرئ.
- له لېسې څخه تر فارغېدلو وروسته په يوه کال کې پر شرايطو برابر يوه WA کالج يا مسلکي ښوونځي کې (له 60 څخه زيات دي!) نوم‌ليکنه وکړئ، او په ښه درجه کې پاتې شئ.

**يادښت:** له کالج باونډ (College Bound) څخه په کالج کې له نوم‌ليکنې وروسته يا د لېسانس سند تر لاسه کولو پورې، هر يو يې چې مخکې وي، تر شپږو کلونو پورې ګټه اخيستل کېدای شي.

## څنګه پوهېږم چې يو کالج باونډ (College Bound) زده‌کوونکی يم؟

په پوسټ يا برېښناليک کې به تازه معلومات ترلاسه کړئ. که خپل د تليفون شمېره يا پستي پته بدلوئ، زموږ له دفتر سره اړيکه ونيسئ تر څو کوم تازه معلومات له لاسه ورنه کړئ.

## د مالي مرستې پيسې به څنګه ترلاسه کوم؟

- د لېسې په وروستي کال (او د کالج په هر کال) کې د مالي مرستې غوښتنليک ثبت کړئ.
- د عايد او د ايالت د استوګنې اړتياوې يا شرايط پوره کړئ.
- د WA په يو ور کالج يا مسلکي ښوونځي کې نوم‌ليکنه وکړئ او په ښه درجه کې پاتې شئ. شاوخوا 60 کېدونکوونکي بنسټونه دي!

کالج باونډ (College Bound) يو پروګرام دی چې د واشنګټن د زده‌کوونکو د لاسته‌راوړنو د شورا (Washington Student Achievement Council) له خوا پرمخ وړل کېږي.

WASHINGTON STUDENT ACHIEVEMENT COUNCIL
EDUCATION · OPPORTUNITY · RESULTS